د کلیو د بیارغوني او پراختیا وزارت

# پرمختیا

اوونیزه

۱۰۱ مه گڼه • پنجشنبه • د تله ۱۸مه • ۱۳۹۸




۷

## د ۳٤۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۵ پرمختیایي پروژو هوکړه لیکونه لاسلیک شول




۵

### د کلیو بیا رغوني او پراختیا وزارت لەخوا په بلخ ولایت کې د کلیوالي تولیداتو نندارتون جوړ شو



۹

### په غور کې د ۹۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د درو پرمختیایي پروژو چارې بشپړې شوې

# په پنځو ولایتونو کې د ۷ ښوونځیو جوړولو کار پیل شو

۱۸/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام د اقرا پروژې تر سیوري لاندې په پنځو ولایتونو کې د ۷ ښوونځیو جوړولو کارونه روان دي.

دا ښوونځي چې د کابل په قره باغ، د بلخ په مارمل، د ننګرهار په چپرهار، د بادغیس په مقر او ابکمري او د زابل په شاجوي ولسوالیو کې جوړیږي، ۸،۱۲ یا شپږ ټولګي، تشنابونه او د څښاک د پاکو او صحي اوبو ځاګاني به ولري. ددې پروژو په ترڅ کې زرګونه کاري ورځې رامنځ ته شوي چې په بشپړتیا سره به یې د څه باندې ۲۳۰۰ کورنیو زده کونکو ته د ښوونې او روزنې وړ چاپیریال رامنځ ته شي.








# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوی مجیب الرحمن کریمي په افغانستان کې د ملګري ملتونو پرمختیایي پروګرام (UNDP) له نوي مشر سره تعارفي لیدنه وکړه

۱۳۹۸/تلې/۱٦

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوی مجیب الرحمن کریمي د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام له نوي مشر سره د خپل کاري په دفتر کې تعارفي لیدنه وکړه .

د لیدنې په پیل کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام له بشردوستانه مرستو مننه وکړه، چې د هېوادوالو په ژوند یې مثبت تاثیر لرلي دي، ورپسې یې د کرنیزو څمکو د اوبو کولو، د برېښنا برابرولو او د لیتاکا پروګرام نورو ولایتونو ته د غځولو غوښتنې د ملګرو ملتونو د

پرمختیايي پروګرام په افغانستان کې له مشر سره شریکې کړې.
د ملګرو ملتونو د پرمختیايي پروګرام په افغانستان کې نوي مشر عبدالله الدرداري د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت لخوا په ښه ډول د پروژو د پلي کولو او ښې همغږۍ څخه مننه وکړه او زیاته کړه، چې د افغانستان په نورو ولایتونو کې د لیتاکا پروګرام د پیل، د لویو پروژو د پلي کولو، له خصوصي سکټور او بهرنیانو د پانګې جذبولو په برخه کې به هڅې وکړي، چې د افغانانو لپاره د ژوند لومړنیو اسانتیاوو د برابرولو، تولیداتو ته یې د بازار موندنې او کاري فرصتونو د برابرولو په برخه کې به اغېزمنې وي.









# د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت لهخوا په بلخ ولایت کې د کلیوالي تولیداتو ننداړتون جوړ شو

۱۳۹۸ - تله - ۱۷

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د هېواد د خپلواکۍ د بېرته ترلاسه کولو په تړاو د کلیوالي تولیداتو د ننداړتونونو په تسلسل چې په کابل، ننګرهار، هرات او کندهار کې یې جوړ کړي وو؛ دا ځل په بلخ ولایت کې د کلیوالي صنایعو ستر ننداړتون جوړ کړ.
دا ننداړتون د بلخ ولایت د دولتي لوړ پوړو چارواکو، د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د کارکوونکو، مدني فعالانو، رسنیو، د پروګرام دګټه اخیستونکو او د دې ولایت د یو شمېر اوسېدونکو په ګډون د رابعه بلخي په مارکیټ کې پرانستل شو.
په دې ننداړتون کې د شمال زون د بلخ، سمنګان، جوزجان، فارياب، کندز، بدخشان، تخار، بغلان او سرپل ولایتونو کلیوالي ښځینه متشبثینو ګډون کړي چې خپل تولیدات به په ۵۰ غرفو کې ننداړې ته وړاندې کړي.
د یادونې ده، چې یاد ننداړتون د تلې د میاشتې له ۱۷ نېټې پیل او تر دریو ورځو به دوام وکړي، چې موخه یې د شمال ختیځ او شمال لویدیز زون د ولایتونو کلیوالي مېرمنو ته د هغوی د تولیداتو د پلورنې لپاره د فرصتونو پیدا کول دي، ترڅو د دوی عایدات ډېر شي او بازار ته ښه لاسرسي ولري.



# په ننګرهار کې د ۱۰.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو کانال او سربند جوړولو تړون لاسلیک شو

۱٤/ تله/ ۱۳۹۸

د ننګرهـار ولایـت د کلیـو بیـا رغونـې ریاسـت او د ثناخیلـو پرمختیایـي شـورا تـر منځ د یـاد ولایـت پـه هسـکه مینـه ولسـوالۍ کـې د ۱۰.٦ میلیونـه افغانیـو پـه لګښـت سـره د یـو کانـال او سـربند جوړولـو تـړون لاسـلیک شـو. د تـړون پـر بنسـټ بـه د ٤۳٦ متـره سـربند او اسـتنادي دیـوال کار ډیـر ژر پیـل شـي چـې پـه بشـړتیا سـره بـه یـې ٦۰۰ جریبـه کرنیـزه ځمکـه خړوبـه شـي او سـلګونه جریبـه نـوره ځمکـه بـه د نیزونو او سـیلابونو لـه ګواښـه خونـدي شـي.

# په بدخشان کې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو یوه کرنیزه زیرمه بشپړه شوه

۱۳/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیـو بیـا رغونـې او پراختیـا وزارت د ولسـي تـړون پروګـرام لـه لـوري د بدخشـان د تشـکان ولسـوالۍ پـه بهارسـتان کلـي کـې د ۱.۸ میلیونه افغانیـو پـه ارزښـت د اوبـو یـوه کرنیـزه زیرمـه بشـپړه او ګټـې اخسـتنې تـه وسـپارل شـوه، دا زیرمـه ۱۱۹ متـر مکعبـه ظرفیـت لـري، پـه دې پـروژې سـره فنـي او نافنـي کارګـرو تـه۲۰۳۲ کاري ورځـې رامنـځ تـه شـوې وې. بایـد ووایـو چـې دا زیرمـه د ۸۰۰ جریبـه ځمکـې او ۹٤ کورنیـو د خړوبولـو وړتیـا لـري.





# د ۳٤۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۵ پرمختیایي پروژو هوکړه لیکونه لاسلیک شول

د تلې ۱٤مه ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د یکشنبې پر ورځ (د تلې ۱٤مه) د ۹ ولایتونو لپاره د ۳٤۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۵ پرمختیایي پروژو د پلي کېدا هوکړه لیکونه له یو شمیر سیمیزو پرمختیایي شوراګانو او خصوصي شرکتونو سره لاسلیک کړل.

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي، هغې غونډې ته چې د یاد وزارت د کنفرانسونو په تالار کې جوړه شوې وه وویل (( دا پروژې څه باندې ۳٤۲ میلیونه افغانۍ ارزښت لري او په ۹ ولایتونو بادغیس، بلخ، کابل، خوست، کونړ، لغمان، ننګرهار، پکتیا او پروان کې پلې کیږي))

ښاغلي کریمي وویل چې، استنادي ،ګبیون دېوله او بولدري دیوالونه ، سولر پمپونه، د اوبه

خور کانالونه، سربندونه او سړکونه جوړول چې کلي به د خرخلاو له مارکیټونو سره تړي له دې پروژو دي.
د کليو بيا رغونې او پراختيا وزير وويل چې له دې پروژو په ۳۲ پروژو کې يې خلک هم ۱۰ سلنه ونډه لري چې هغوي د دغو پروژو د مالکيت احساس وکړي او د مسوليت منني حس يې پياوړي شي.
ښاغلي کريمي زياته کړه «له يادو پروژو ٦ يې د ايټاليا هيواد له لوري او يوه پروژه د هند له لوري تمويليږي او ٦ نورې يې چې د اوبو رسونې لپاره سولر پمپونه هم په کې شامل دي د کوچيانو لپاره په پام کې نيول شوې دي»
بايد ووايو چې ددې پروژو په پلي کيدا سره به ۸۳۵۸۰ کاري ورځې رامنځ ته شي او نږې ۷٦ زره کليوال وگړي به له دې پروژوگټه واخلي.













# په غور کې د ۹۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د درو پرمختیایي پروژو چارې بشپړې شوې

۱۳۹۸/تلې/۱٦

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له لوري د غور ولایت په پسابند، لعل او سرجنګل ولسوالۍ کې د ۹۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د درو پرمختیایي پروژو چارې بشپړې شوې.

په دې پروژو کې د ۱۱،۵ کیلومتره اوږد او ٦ متره سور لرونکي سړک جوړول، ٤٧۰ متره د کرنیزو ځمکو د اوبو کولو د کانال جوړول او د ۲٦۰ متره محافظوي دیوال جوړول شامل دي، چې ۳۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه به خړوب کړي او د قزل ښاره به د سیلابونو له خطره هم خوندي کړي.

همدرنګه یاد شوي، سړک چې د اب توګک کلي له بند شور سېمې څخه پیلیږي او د پسابند ولسوالۍ د دهن روف سېمې پورې غځیږي، دایکنډي ولایت دګتي ولسوالۍ، د هلمند ولایت د میش ولسوالۍ او لسګونه کلي د پسابند له ولسوالۍ سره وصل کوي.

د دې پروژو په پلي کېدو سره د ۷٤۵۵ کاري ورځې رامنځته شوې او د سېمې ۱٦۰۰ کورنۍ به له دې پروژو څخه ګټه اخلي.